# البروج

**مکی سورة دی ۲۲ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ﴿١﴾

**قسم د ټینګو او مستحکمو کلاګانو( دولسو برجونو او عظیم الشأنو لویو ستورو او سیارو) په لرونکی آسمان.**

وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ﴿٢﴾

**او( قسم د قیامت) په هغه موعوده ورځ چې( هر چا ته به د هغه د کړنو مکافات او مجازات ورکړی شی).**

وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ﴿٣﴾

**او( قسم) په شاهد( چې د قیامت په ورځ به حاضر او د ټول جریان لیدونکی به وی) او په لیدل کیدونکی( د قیامت ویروونکی حالت چې هر څوک به یې وینی).**

قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ﴿٤﴾

**تباهی دی وی( د اور) د هغه خندق په مالکانو(چې د نجران د یهودی حکمران له خوا جوړ شوی و او مؤمنان به یې ورته ورغورځول).**

ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ﴿٥﴾

**هغه اور چې لمبه وهونکی مواد یې( ګوګړ او لرګی وو).**

إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ ﴿٦﴾

**او چاروکی یې شاوخوا ناست وو،**

وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ﴿٧﴾

**او د مؤمنانو د تعذیب او سوزیدو ننداره یې کوله( په دغه ستر جنایت کې د عیسی علیه السلام لږ تر لږه شل زره مؤمن پیروان وسوځیدل).**

وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿٨﴾

**د مؤمنانو ګناه یوازې همدا وه چې په برلاسی او ستایل شوی ذات الله تعالی یې ایمان راوړی و.**

ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٩﴾

هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکې مالکیت او سلطنت یې په واک کې دی، بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو گواه دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُوا۟ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا۟ فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ
وَلَهُمْ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٠﴾

څوک چې مؤمنان سړي او ښځمني ربړوي او آزاروي، او بیا له خپل دغه ناوړه عمل نه توبه نه وباسي د دوزخ سوزوونکی عذاب ورته تیار شوی دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿١١﴾

څوک چې ایمان راوړی او نیک عملونه کوی، په هغو جنتونو به نازول کیږی، چې( د ونو او ماڼیو) لاندې یې د الهې نعمتونو ویالی رواني دی. یقیناً چې دا لویه بریا ده.

إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾

بې له شکه چې ستا د رب مؤاخذه او مجازات ډیر سخت دی.

إِنَّهُۥ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې( مخلوقات) پیدا کوی او( له مرگ وروسته یې ) بیرته راژوندی کوی.

وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ﴿١٤﴾

او( د مؤمنانو لپاره) ښنونکی او مینه کوونکی ذات دی.

ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ﴿١٥﴾

د لوړ او ارزښتمن عرش څښتن دی.

فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾

هر کار او اقدام پخپله اراده سرته رسوی( او هیڅوک یې مخه نشی نیولی).

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡجُنُودِ ١٧

( ای پیغمبره**!**) آیا د پوځونو داستان دې اوریدلی؟

فِرۡعَوۡنَ وَثَمُودَ ١٨

د فرعونیانو او ثمودیانو( د لښکرو، چې د کفر او عناد په جرم په دردوونکی عذاب محکوم شول).

بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي تَكۡذِيبٖ ١٩

(یوازې د حق دغه مکذبین او دښمنان نه) بلکه (ستا د قوم) کافران هم په تکذیب کې(ډیر سخت سره او افراطیان دی).

وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ ٢٠

چې الله تعالی له هر لوری محاصره کړی دی.

بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ ٢١

( هغوی قرآن دروغ ګڼی خو) دا قرآن د لوړې مرتبې با عظمته کتاب دی.

فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ٢٢

چې په لوح محفوظ کې پروت( او له هر ډول تحریف او لاسوهنې څخه مصؤن دی).

« تمت سورة البروج بفضل الله و ورحمته»

==================